# د ميوي تخم خوړونكى چينجي

# Codling Moth (*Cydia or Laspeyresia pomonella*)



جينجي په داخل د ميوه كى



كله جى حشره نيش وهل ده (لين هگى يى اچولى دى)



په پوتكى كى پيله



ځوان پتنګ

Statewide IPM Program, Agriculture and Natural Resources, University of California
All contents copyright © 2009 The Regents of the University of California. All rights



*فيرومونونى تلك چى د نرى حشرى د تفتيش او بررسى لپاره كارول كيږى*

# Codling Moth

# د میوی تخم خوړونکي پتنګ

**توضیحات** :- دا پتنګ چه په انګریزي کي (Codling moth) ورته وائي د مڼو، ناکو خوباني (زردالو)، بوئي، شفتالو او متکو(چارمغز) په میوه یرغل وکړي . یو نیش کافي دي چه ټوله میوه له خرڅلاو څخه اوغورځوي او یا ئي خوسا کاندي.

دا پتنګ په کال کي تر ٢٤ نسلونه پیدا کولي شي چه البته دي حرارت درجي پوري اړه لري ځوان پتنګ په ثور او یا جوزا کي ظاهریږي او کله هم الوزي چه دي تودوخي درجه ١٥ درجي ته ورسیږي دا پتنګ هګي په میوه ،پاڼو او نازکو څانګو باندي اچوي . کله چه چینجي له هګي راوزي نو په میوه کي سوري کوي ترڅو چه ځان میوي ته ورسوي او ویخوري . دي ننوتو تګي (د نیش وهلو ځاي ) له وراښکاري کله چه چنجي خپل نهائي ودي ته ورسیږي نو چنجي له ځان نه تارونه چاپیر راباسي چه پیله ورته وائي او دي بتیتي مرحله همدغي ته وائي او وروسته له دي پیلي څخه ځوان پتنګ را اوزي. په سني کي دا چنجي چه پیله جوړه کړه نه را اوزي او هلته ژمي تیروي . دا پیلي په چاودونو کي په پوټکي کي او یا په خاروه او یا د میوو په کربت کي وي .

**بررسي او نظارت** :- ددي حشري حال او احوال دي فیرموني (یو نوع کیمیاوي موادو څخه چه ښځینه پتنګه ئي تولیدوي) تلکونو په واسطه کیږي په دي مانا چه تلک په باغ کي ایښوده کیږي او هغه مقدار پتنګان چه په هره هفته کي نیول کیږي ریکارډ کیږي کله چه له پنځو څخه زیات نارینه پتنګان ونیول شي نو یوه دواپاشي باید وشي.

**مخ نیوي** :- میخانیکي مخنیوي داسي کیږي چه دي کریټ کاغذ د مڼو تنو چارچاپیر محکمیږي او دا چنجي دي کاغذ په سوریو کي ننوزي وروسته دا کاغذونه کي پیلي پکي وي راټولیږي او سوځول کیږي خو دا که باغ کوچني وي نو دي ملوث شویو میوو راټولول هم په مخنیوي کي مرسته کولاي شي.

دي حشراتو دي یو ځاي کیدو خرابول :- د ښځینه دي یو ځاکیدو لپاره کیمیاوي مواد څو ځایه په باغ کي د ثور په میاشت کي وینبودل کیږي ددي کار په اثرنره حشره نشي کولاي خپله ښځینه پتنګه را پیدا کړي ترڅو چه سره یو ځاي شي دي تخنیک نه باید په لویو باغونو کي چه اقلا لس جریبه وي استفاده وشي.

**کیمیاوي مبارزه**:- که باغ په دي حشره باندي لړ اخته شوي نو لازمه ده چه دي یوه نوع ویروس دواپاشي شي چه دا حشره مریضه کاندي چه داکار دي I.P.M لپاره کیږي.خو لړ اغیزه لري دي فلونبروران هم اغیزمنه کیمیاوي ماده چه باید ترینه کار واخیسته شي . همدارنګه مصنوعي پاي راترایډ لکه سایپرمترین، لمبدا، ساهالوترین، باي فین ترین یا کلوروپایرفوش دا تولي اغیزمني دواګاني دي خودي I.P.M لپاره نه کارول کیږي ځکه چه وروسته په دي حالت حالت ستونزه مینځ ته راشي.

**دي دوا تقسیم اوقات** :- له 5- 7 ورځو وروسته کله چه دا ستونزه شروع شي اودي ١٤ په وقفه .